# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|


بســــــمل

۰۵.۱۰.۰۹

## ما خو وپل چې بې څه نه دی



**قدرمنو لوستونکو!**

**لمړی خوبه دا تاسو ته عرض کرم چې هر انسان الله تعالی آزاد دي نړې ته راوړی اوله کاملي انساني آزادي څخه کته پورته کولای شي دا که هندو وي که یهود، مســــلمان او که عیسوی یا نور او نور مانا زه تول درب بندگان بولم او یو هم له بل څخه برتري نه لري خو بیا هم بهتر او برتر هغه څوک دی چې صادق، قاطع او دخدای بند گي ته ربنتینی وي .**

**قدرمنو خویندو او ورونو!**

**پینځه کاله د مخه مې لا یو شمېر دوستانو ته وپلي وو چې دا احمدی نژاد** (سبورجی ین) بې څه نه دی حتی په یوه لیکنه کې خو مې له مسعود سره مشابه کړی و هغه لیکنه د( بناغلي روهي ) په وېبپاڼه کې دخو گانټو لپاره خیره شوه خوبیاکوم چلوونکي ببرته پټه کړه چې لا تر نن ورځې پوري یې په دلیل پوه نه یم په هرصورت راځم اوس خپلې خبرې ته هغه داچې دایران د ننني ولسمشر تر شا نورې خبرې ولاړي دي د ایران ننني مشرتابه له امریکا سره خوراخـوا ړه پیوندونـه لـري ځکـه خـوایران د افغانـستان دکورنیو چارو پـه لاسـوهنه کـې آزاد پرېښودل شوی دی .

امریکادخپلو ستراتیژیکو گټودساتلو لپار ه دایران ډېره نږدې ملگرې ده هسې په خولـه دنـاز کبرې سره ولـي هغه متل دی وایي مړی چې خدای (ج) شرموي نو پـه تختـه یـې ... بهېږي همدا ډول امریکا او احمدی نژاد هم له خیره سره وشرمېدل .

عزیزانو !
نورمو وخت نه نیسم د ښاغلي نثار احمد صمدژباړه په لاندې ډول ښه په غورسره ولولئ اودا هم راسره ومنئ چې زه له هیڅ کوم مذهب سره ستونځه نه لرم خو په هر مذهب کې چې جبر او سرزوري وي ورته ځوریږم .

ژباړن : نثار احمد صمد
**احمدي نژاد په ډاګه کړه چې زه پخوا یهودئ وم**
د محمود احمدي نژاد لخوا پر یهودیانو تونـدي حملـې یو حیرانونکئ راز پټ سـاتي چـې د هغه مدارک ډیلی ټلګراف رسوا کړل .
د ایرانـی ولسمشر عکس چې د ۲۰۰۸ په ولسمشریزو انتخاباتو کـی یې خپلـه پیژنـد پاڼـه نېولې ، واضحاً دا ښیِّی چی د ده کورنئ یهودي ریښه لری .
که دغه اسناد له نږدې وکتل سی نو دا ښیِّی چی دئ پخوا پـه « سبورجی ین » سره پیژنـدل کېدئ چی یو یهودي نوم دی او معنا یې جامې اوبدونکئ دی . هغه ګډې وډې کرښې چې پر دغه کارډ لیکلې ، دا اشاره رسوي چی د ده کورنی د ده تر زوکړی وروسته د اسلام پـه مشرف کېدو سره خپل نوم « احمدی نژاد » ته اړولی دی .
« سبورجی یان » په روایتی توګه د ښاغلي احمدی نژاد د زوکړی د ځـای یعنـی « ارادن » څخه نشأت کوی ، او دا نوم د « سبور اوبدونکی » څخه اخیستل سوئ دی چی مطلب یې پـه پـارس کـی د یهودی « تالیت شـال یـا څـادر » څخه و . دا نـوم حتـی د ایران د داخلـه وزارت لخـوا د ایرانـی یهودیانو لپاره د اختصاص کړو نومونو په لیست کی شامل دی .
ماهرانو تیره شپه څرګنده کړه چې ښـایي د احمدی نـژاد لخـوا پر یهودو د کرکو نه ډکو حملو د څرک تاریخچه په اصل کی د خپلی سابقي د پټولو یو له حده وتلی جبران وی .
د عربـو او ایرانیـانو د څیړنـو د مرکز څخـه علـی نـوري زاده وویل چـی « د احمـدی نـژاد د دې سابقي ښه د ده په باره کی ډیر شیان واضح کوی . هره کورنئ چی یو بل دین تـه اوړي ، نـو د خپل زاړه دین په غندلو سره یو نوئ هویت اخلی . دئ د اسراییلی ضد وینـاوو پـه کولـو سره هڅه کوی چی د خپلو یهودي تړاوونو هر ډول بدګوماني او شکونه ایسته وغورځوی . دا ځکه چی دئ په بنسټ پاله شیعه ټولنه کی ځان خوږېدونکی ( آسیب پذیر ) احساسوی . »
په لندن کی د ایراني یهودو په هکله یو استوګن مـاهر وویل چـی د نـوم پـه پـای کـی د « جـی ین » توري په تیره بیا دا ښودلې چی هماغه کهول به د یهودو عمل کاوه .
په ایران کی یو زوکړېدلې یهود چی په لندن کـی اوسیږی ، وویل « هغه خپل نـوم د مذهبی دلایلو پر اساس بدل کړی ، یا دا چی لږترلږه والدینو یې دا کار کړی دی . سبورجی ین په ایران کـی یو ډیر مشهور یهودئ نوم دی . »
په لندن کی د اسراییلی سفارت یو ویندوی « ران ګیدر » وویل چی دا بـه د ښاغلي احمدی نـژاد پـه سابقه پوری اړه نه لری . ده وویل چی « دا هغه څه نه دی چی موږ دې خبري وربانـدی وکړو . »
د ایران مشر د دې څخه انکار کوی چی کله د ده کورنی په ۱۹۵۰ لسیزه کی تهران ته راوکوچېده ، نو د ده نوم هم بدلون وموند . خو ده هیڅکله دا نه ده واضح کړې چې هغه یې د څـه شي څخـه راواړاوه او نه یې هم د دې بدلولو دلیل مستقیماً ویلی دی .
د ده خپلوانو پخوا ویلی وو چی د دینی دلایلو او اقتصادی فشارونو یو ترکیب د ده پلار احمد چی یو پښ ( یعنی آهنګر ) و ، دې بدلون ته اړیوست چی ښاغلی احمدی نژاد هغه وخت څلور کلن و .
ایرانـی ولسمشر د یـو لایق انجینیر پـه توګـه را میدان تـه سو چـی د ترافیکو پـه کنترول کـی یـې دوکتورا پیسی واخیسته . دئ مخکی له دې چې په مرکز کی سخت دریځه سیاست ته ننوځی ، د « انقلاب ساتونکو » په ملیشا کی شامل و .

د سږ کال د ولسمشریزو انتخاباتو پر مهال د ټلویزیونی مناقشي په ترڅ کی دئ تحریک او اذیت کړه سو تر څو دا ومنی چی د ده نوم بدل سوی دی ، خو ده ځان دوری هوری تېر او ناګومانه واچاوه .
مګر بیا هم یو ویب پاڼه لرونکی چی مهدی خزالی نومیږی ، او د ښاغلي احمدی نژاد د اساس او سرچیني ګروېږنه یې غوښته ، په اوړی کی ونیول سو .

ښاغلي احمدی نژاد پر اسراییلو باندی منظماً ډېر توند انتقادونه کړي دي ، د هغه د شتون پوښتني یې راپورته کړي او هلوکاسټ ( یعنی د هټلر لخوا یهود وژنه ) یې نه ده منلې . برتانوي دیپلوماتان تیره میاشت د ملګرو ملتونو د غونډې څخه وروسته له هغه ووتل چی ایرانی ولسمشر اسراییل د « ډله ییزه وژنو ، وحشت او توکمیز تعصب » په تړلو سره وغانده .

بنجامین نتن یاهو د ملګرو ملتونو په همدې سرمشریزه غونډه کی په ایراني مشر پوری یو لمسېدلی تهمت وتړئ . ده داسی وویل « پرون چی کوم سړي هلوکاسټ درواغ وباله ، د همدې ستېج څخه ږغېدئ . معنا دا چی تاسو د هلوکاسټ څخه فقط شپېته کاله وروسته هغه سړي ته مشروعیت وروبخښئ چی د شپږو ملیونو یهودانو وژنه نه منی ، په داسی حال کی چی د اسراییلی دولت یعنی د یهودو د دولت د محوه کولو خبري کوی . دا څومره سپکوالی دی . څومره د ملګرو ملتونو په منشور ملنډې دي . »

ښاغلیً احمدی نژاد د نازیانو لخوا د یهودي توکم د محوه کولو د هڅو په باره کی پرله پسې خورا ډیري خبري کوی . ده په هغه غونډه کی چی په ۲۰۰۶ کی په تهران کی د هلوکاسټ په هکله جوړه سوې وه ، اعلان وکړ چی « هغوی نن داسی یوه خیالی افسانه جوړه کړې چی د یهودو ډل وژنه یې بولی او هغه د خدای ، دینونو او پیغمبرانو تر اصولو هم یو لوړ بنیادی قانون بولي . »
پای